خان عبدالولي خان د مؤرخ په حېث

ډاکټر فضل الرحیم مروت

تاریخ عام اولس ته خو شاید قیصه یا د قیصو مجموعه ښکاري خو په اصل کښې تاریخ د یو مخصوص علم په حېث ځان ته ډېر ګران او منفرد مضمون دے، خو له بده مرغه د ماضي هره رښتیا او دروغژنه قیصه خلقو ته تاریخ ښکاري. یوه بله خبره دا چې له تاریخ سره کله هم انصاف نۀ دے شوے ځکه چې تاریخ کله په دربار کښې ولیکلے شو ،کله چا بادشاه یا حکومت وخت د خپلې خوښې مؤرخین راجمع کړل او هاغه خبرې ئې ولیکلې چې دوي ته سمې یا سیاسي طور فائده مندې ښکارېدې او یوه بله المیه دا هم ده چې ډېر ښکلي عمارتونه، باغونه، مقبرې د دنیا په ګُټ ګُټ کښې موجودې دي خو له بده مرغه هغه د بادشاه په نوم یادېږي او هغې سره د جوړونکو ګلکارانو او مزدورانو نومونه نۀ وي. هسې هم د اولسونو تاریخ ته چا توجه نۀ ده ورکړې او همېشه د پاره مزدور، کسان، کرونده ګر، فنکار یا بالکل نظر اندازکړے شوے دے او یا ډېر کم ستائیلے شوے دے.

په تاریخ کښې د دې دنیا د نیمې نه ډېره ابادي د ښځو ده خو دوي هم په تاریخ کښې ځائے نۀ مومي ځکه چې د دوي په لاس کښې تُوره او ټوپک نۀ ؤ او بله خبره دا چې ټولنه هم پدرسري وه چې نۀ پکښې ښځو ته جائداد او نۀ په شجره کښې ځائے ورکولے کېدو. بله بدقسمتي دا هم ده چې د پاکستان د تاریخ شایدد زمکې سره او د زمکې اوسېدونکیو سره ډېر کم تعلق دے او دا هڅه ارادتاً شوې ده چې دلته اوسېدونکي خلق خپل شناخت ونۀ کړے شي او دوي ته ځان کله عرب، کله مغل او کله د محمد بن قاسم سپایان ښکاره شي. سوال دا دے چې آیا زما خپل شناخت شته؟ آیا زۀ د دې زمکې د ټوکړې چې وړاندې ورته هندوستان یا افغانستان او اوس پاکستان وائي اوسېدونکے نۀ یم؟ زما خپل کلتور یا تاریخ هم شته او کۀ شته نو چرته دے؟ زما پلار نیکۀ له کومه راغلي دي، هغه د مرکزي اېشیا یا افغانستان نه راغلل یا محمد بن قاسم سره په بدرګه کښې راغلي دي. ماسره د محمود غزنوي او محمد بن قاسم نه مخکښې څۀ شته او کۀ نۀ او کۀ څۀ شته نو د هغې ماته د معلوماتو ضرورت هم شته او کۀ نۀ؟ او شاید ضرورت ئې ماته ځکه نشته چې هاغه وخت زۀ مسلمان نۀ وم او بیا په پاکستان کښې یو نام نهاده فېډرېشن کښې زما مقام، زما نوم، زما برخه څومره ده؟ آیا ازادۍ کښې زما برخه شته او کۀ نۀ؟ کۀ شته نو په نصابي کتابونو کښې ولې نشته؟ او مونږه خپلو ماشومانو نه ولې خپل شناخت، خپل تاریخ او جغرافیه پټوو او د نورو تاریخ او کلتور ورته ښئیو؟ آیا دا ځکه چې د دوي په سوچ او فکر د تورو تیارو حکومت وي او دوي د یو بې ساه ګوډاګي په شان د بل په اشارو ګډېږي او په خپل ځان او خپله خاوره فکر ونۀ کړي. ولې چې د خپل ځان نه خبرتیا د ځان نه خبرتیا ده او د ځان پېژندنه د اولس او نړۍ پېژندنه ده. یو ازاد فکر او سوچ تجسس علم او تحقیق ته لاره هواروي، قومونه د ترقۍ په لار اچوي او امن طرفته ئې بوځي.

د خدائے په فضل زۀ په دې خبره ډېر فخر کوم چې زمونږ د ازادۍ اتلان او سرخېلان ټول لیکونکي یا شاعران وو. دا د یو قام دپاره د ډېر فخر خبره ده چې د هغوي مشران هم د قلم خاوندان وي. د مثال په توګه پیر روښان، خوشحال بابا، رحمان بابا، احمدشاه بابا، باچا خان او د هغوي زامن لکه غني خان، علي خان، او رهبر تحریک خان عبدالولي خان د دې قافلې سر سالاران دي.

د خان عبدالولي خان لویه خوبي دا وه چې هغۀ د ماشومو الي نه یوه سیاسي کورنۍ کښې سترګې پرانستې او هغې سکول او مکتب کښې ئې سبق ووې کوم چې باچا خان جوړ کړے ؤ او ورسره ورسره هر سیاسي تحریک کښې په اول قطار کښې ودرېدو.

ولي خان په ځوانۍ کښې هم مختلفو مجلو او رسالو ته لیکل کول. ډېر لیکل ئې په پښتو کښې دي. تنقیدي جائزې او انټرویوز ئې هم په اخبارونو او مجلو کښې چاپ شوي دي چې د مستقبل دپاره ئې پکښې پېش ګویانې کړې دي او هغې کښې ډېرې صحیح هم ثابتې شوې دي. هغه کۀ جېل کښې ؤ نو خپله مطالعه او لیک لوست ئې جاري ساتلے ؤ او کۀ لندن کښې ؤ نو انډیا آفس لائبرېرۍ (برټش لائبرېري) کښې خپله مطالعه مسلسل وساتله او خپل ژوند کښې ئې کتابونه ولیکل. د مثال په توګه "رښتیا رښتیا دي" وروستو انګرېزۍ او اردو کښې هم ترجمه شو. دۀ خپل لیک کښې د هندو پاک د ازادۍ او د هغې د مختلفو کردارونو نه پرده اوچته کړه او حوالو او ثبوتونو سره ئې حقائق بیان کړل. ګو چې دې سره پاکستاني پریس او میډیا کښې د هغۀ خلاف ډېر طوفان راپورته شو خو ولي خان د دې پروا ونۀ کړه ځکه چې هغوي د تاریخ صحیح کولو هڅه کړې وه او په خپل کوشش کښې کامیابه شو. ولي خان څلور جلده کتاب "باچا خان او خدائي خدمتګاري" په نوم لیکلے دے چې پکښې د دوو جلدونو اردو کښې ترجمه شوې ده، ولي خان په اولني جلد کښې یوه نازکه نکته را اوچته کړې ده چې ایا د هند تقسم د هندو او مسلمان په نوم ؤ یا دا د مسلمان تقسیم ؤ؟ هغۀ کوشش کړے دے چې د تصویر هاغه مخ خلقو ته وښئي چې کوم په پاکستان کښې د اولس نه او خصوصاً د پښتنو نه پټ کړے شوے ؤ او تر اوسه پټ دے. ولي خان دا هم په ډاګه وائي چې هغه د چا مخ تورول یا په چا الزام نۀ لګوي یا ئې د چا رسوائي مقصد نۀ دے بلکې د هغۀ مقصد د باچا خان او د هغۀ تحریک مخې ته راوړل دي.

د پښتو زوړ متل دے چې د دروغو مزے لنډ وي او دغه وجه ده چې د دروغو نه ډېره زر پرده اوچته شي او هغه حقیقت مخې ته راشي چې قام په مخ بیائي او د ترقۍ په لاره ئې بوځي.

ولي خان دا خبره هم پاکستاني او پښتون اولس ته په ګوته کوي چې کوم خلق د انګرېز ملګري وو یا ئې د هغوي دپاره کار کولو هغه د پاکستان جوړېدو نه پس د اقتدار په کرسۍ کښېناستل او چا چې د انګرېز خلاف سیاسي تحریکونه چلول هغوي د ازادۍ نه پس هم جېلونو کښې بند کړے شول یا پرې بندیزونه ولګېدل خو څو ځله ورباندې ګولې هم وچلېدې. په لنډه توګه آیا دا چې د پاکستان د جوړېدو نه پس پښتون اولس خپل مرام حاصل کړو کۀ نۀ؟